Preview (1 / 10) - ketabton.com



## سريزه

إِنَّ الْحَمْدَ للهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِيْنُهُ وَنَتُوْبُ إِلِيهِ وَنَسْتَغْفِره، وَنَعُوذُ بِاللّٰه مِنَ شُرورِ أَنْفُسَنَا وَسَيئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰه فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّااللّٰه وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، صلوات اللّٰه وسلامه عليه وعلى آله وصحبه أجمعين.

اللّٰه! موږ د هغه څه پرته چې (تا) رابنودلي، بل هيڅ علم نه لرو، ته عالم او حکيم يې. اللّٰه! موږ ته په دې دنيا او هم په اخرت کې نيکې راکړه او موږ د اور د عذاب څخه وساته. اللّٰه! قران کريم زموږ د زړونو پسرلی، د سينو روښنايي او زموږ د غم او درد د لرې کولو وسيله کړه او په شپه او ورځ کې د دې توفيق راکړه چې تلاوت يې کړو او موږ ته هر هغه څه رازده کړه چې موږ پرې نه پوهيږو او هر هغه څه موږ ته رایاد کړه چې له موږ هيربږي او په اخرت کې هغه زموږ بريا دليل وګرځوي.

بې شکه چې اللّٰه تعالی انسان په داسې شکل پيدا کړی چې هوډ او اراده ورسره مله دي او هغه ته يې د دې ځواک ورکړی چې خپل عزم او ارادې ته ورسيږي او خپله وړتيا او همت نور هم ډېر کړي او هغه څه ته فکر کول چې لوړ دي او هغه څه ته نظر کول چې ډېر پورته دي او هغه څه ته کتل چې کامل او پوره دي دا ټول يې په انسان کې کرلي او ايښي دي.

په حقيقت کې اسلام دا ځانګړتيا په فرد پورې اړوند ګڼي او هغه نصوص چې د قران کريم په ايتونو او د رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه وسلم په احاديثو کې راغلي دي، نيک مسلمان انسان ته يې ويلي چې په پوهې سره دې ځانګړنو ته د رسېدو لپاره په عملي ډول کار وکړي او هغه يې ډېر پرمختګ، هيلو او لرليد ته هڅولی دی.

Preview (2 / 10) - ketabton.com



رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل سیرت او عملي ژوند کې د دې مسلمان لپاره یوه الګو، بېلګه او نمونه وړاندې کړې ده او هغه یې دې ته رابللی چې د ژوند په ټولو برخو او چارو کې کوښښ وکړي چې دا ځانګړنه په عملي ډول په ځان کې پیدا کړي او پر دې بنسټ رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې برخه کې (سمبول او نمونه) ده چې هر غوښتونکي دا لاره تعقیب کړې او پرمختګ ته لیواله وي او د ځان غوره والي او فردي پرمختګ په لټه وي دا په نظر کې نیسي.

الله تعالی د اسلام په تاریخ کې د صحابه وو رضوان الله علیم څخه تر نن پورې ډېرو قوي علماوو ته توفیق ورکړی چې د کمال او لوړوالي پر لوري د علم د پرمختګ لپاره هڅې وکړې او د فردي پرمختګ او په اسمان کې د دې امت لپاره ستوري وو، داچې نور دوی ته په حیرانتیا او عظمت سره ګوري او دوی څخه الګو اخیستلو ته لیواله دي او دا لاره تعقیبوي.

دا د تمې وړ لیوالتیا په اوس وخت کې په ډېرو نېکو او مسلمانو ځوانانو کې شته او سترګې یې په هغه څه ګنډلي او هغه څه ته لېواله دي چې کمال ته انسان رسوي او زړونه یې هغه څخه ته تمایل لري چې ډېر لوړ دي. دوی له هغو شیانو متاثره دي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه د یارانو او د پخوانیو علماوو په ژوند کې وو او له هغوی څخه د نمونې اخیستلو او هغه څه ته د نږدې کېدو لپاره چې هغوی ورته رسېدلي و، ډېر لیواله دي. د دې غوښتونکو د دومره لیوالتیا سره سره دوی په دې نه پوهېږي چې دوی باید څه وکړي او له کومه ځایه یې پیل کړي او څنګه حرکت وکړي؟

ډېری دا نیک عمله، د علم، پوهې، لیوالتیا، همت او لوړې حوصلې لرونکي ځوانان نه پوهېږي چې څنګه طرح او پلان جوړ کړي او ورځې، میاشتې او کلونه تېر کړي؟ د همدې لپاره دوی داسې چا ته اړتیا لري چې دوی ته لارښونه وکړي او لاس یې ونیسي.

Preview (3 / 10) - ketabton.com



دې ته په پام سره چې زه يو له هغه کسانو يم چې، که الله تعالی وغواړي، ډېرو داسې نيکو ځوانانو سره په اړيکه کې يم چې په پوهنتون کې د تدريس يا په مسجد کې د علمي تدريس او يا نورو ځايونو کې له هغوی سره ګورم، د دې ليواله ځوانانو څخه ډېرې پوښتنې ترلاسه کوم. هغوی د توصيې، لارښوونې، نظر او د طرحې، پلان او د پيلولو د ټکي غوښتنه کوي...

وايي: موږ څه وکړو؟ څه ولولو؟ څنګه يې ولولو؟ څنګه خپله نيمګړتيا پوره او جبران کړو؟ کومه ځانګړتيا ده چې بايد موږ يې ترلاسه کړو؟ هغه کوم اساسي خطونه او ستنې دي چې موږ يې بايد په ژوند کې ټينګ او کلک کړو؟ د خپلې ورځې ساعتونه څنګه پلان کړو؟ څه وخت ويده شو؟ څو ساعته ويده شو؟ د مطالعې او علمي زده کړې لپاره کوم وخت مناسب دی؟ څه بايد وکړو چې له ناروغيو ځان وساتو؟ او څنګه خپل ځانونه د نيکمرغۍ او خوښۍ څخه برخمن کړو؟

دا ځوانان زما په اړه نيک فکر لري، الله تعالی دې دوی ته د دې اجر ورکړي او هيله من يم چې د هغوی د دې نيک فکر مطابق و اوسم او د الله تعالی پر وړاندې له هغه څه غوره و اوسم چې دوی يې فکر کوي او الله تعالی دې ماته هغه څه راکړي چې هغوی ترې خبر نه دي. دې ارزښتمنو او قيمتي ځوانانو له ما وغوښتل، په داسې ډول چې غوښتنه مې نه شوای ردولی، چې دوی ته يو کتاب يا يادانبت وليکم، چې پکې هغه څه بيان شوي وي چې دوی يې غواړي او هغه څه ته د ارتقا لپاره چې دوی يې ليواله دي، توصيې او لارښونې وليکم او په هغې کې دوی ته پروګرامونه او وړانديزونه مشخص کړم.

هغوی پرلپسې زه دې کار ته تشويقولم او پر ما يې فشار راوست او ما به هم د علمي کارونو د ډېروالي او د وخت د کموالي له امله دوی ته عذر وړاندې کولو؛ خو هغوی له هڅونې او غوښتنې لاس نه اخيست. په پای کې الله تعالی د دې کتاب د ليکلو توفيق راکړ، چې له الله تعالی ډېر شکر ګذار يم او په لومړۍ برخه کې مې د هغه کسانو ليوالتيا ټاکلې چې د توصيې او لارښوونو غوښتونکي وو.

Preview (4 / 10) - ketabton.com



دوی د علمي او اکاډميکې زده کړې لپاره يو پروګرام غوښته، داسې پروګرام چې دوی ته وښايي چې خپل وخت څنګه تېر کړي؟ څنګه مطالعه وکړي او هغه درک کړي او پوه شي. همدارنګه دوی د داسې علمي پروګرام غوښتونکي و چې دوی په دې وپوهوي چې څه ولولي؟ او کوم کتابونه دي چې د علم په مختلفو برخو کې هغوی ته لارښوونې لري؟ د هغې له جملې د عقيدې، تفسير، حديث، فقه، لغت او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د سيرت او د دعوت د تاريخ او فکر په برخه کې لارښوونې ولري او کومو کتابونو ته په سينو کې ځای او لومړيتوب ورکړي او کوم کتابونه مهم او ګټور دي؟

پر دې بنسټ د دوی د غوښتنو مطلب دا دی: څنګه ولولي؟ څه ولولي؟ ډېره هيله مې وه چې په دې کتاب کې دې دوه پوښتنو ته ځوابونه ورکړم؛ خو کله مې چې د لومړۍ پوښتنې په ځواب پيل وکړ: څنګه ولولو؟ او څنګه خپلو وختونو څخه ګټه واخلو؟ او د خپلې ورځې ساعتونه څنګه منظم او پلان سره برابر کړو؟ خبرې پکې ډېرې شوې او د دې کتاب حجم ډېر شو سره له دې چې په لنډ ډول او له زيان او نيمګړتيا پرته مې د خلاصې په ډول وليکه او که مې دويمې پوښتنې ته ځواب ورکولی: څه ولولو؟ له شک پرته چې د دې کتاب حجم دوه برابره کېدو، په داسې حال کې چې ورونو، خويندو او خپرندويه سره مې توافق کړی و چې مشخص حجم به لري.

په همدې خاطر مې دا يادابنت دې مطلب ته ځانګړی کړ چې: څنګه ولولي او وخت څنګه پلان سره برابر کړي؟ دويم يادابنت مې دې مطلب ته ځانګړی کړ چې: څه ولولو؟ او په اسلامي کتابخانو کې د علمي زده کړې د لومړيتوبونو ترتيب څه دی؟ خپله ژمنه د دې يادابنت ليکلو ته ځانګړې کوم او له الله تعالی غواړم چې په نږدې وخت کې يې د بشپړولو توفيق راکړي. په دې يادابنت (د ليواله کسانو لپاره ځليدونکې لارې) کې مې لاندې اساسي موضوعات ځای پر ځای کړي:

**١.** سورت عصر، او يو بل حق ته د رابللو او يو بل ته د صبر د سپارښتنې د څرنګوالي لارې مې وړانديزونه کړي دي.

Preview (5 / 10) - ketabton.com

**۲.** دین، نصیحت او خیر غوښتنه او (یو بل ته د نصیحت کولو) بنسټ دی.
**۳.** علم او وخت په اړه د علماوو د هڅو بېلګې.
**۴.** د حرکت د نقطې روغتیا او رښتینولي.
**۵.** د علم لرونکي لپاره اساسي اخلاق.
**٦.** په علمي شخصیت کې اصلي محورونه.
**۷.** د روښانه هیلو لرونکی لیواله انسان.
**۸.** د لومړیتوبونو ترتیب، پلان جوړونه او مهالویش.
**۹.** د پلان شوو تګلارو او طرحو د اجرا څرنګوالی.
**۱۰.** د ورځې په ساعتونو کې د عالم سره ملتیا.
**۱۱.** د روحي او جسمي روغتیا د تامین لپاره د عالم ملتیا.

د لیواله ضمیر خاوند عالم دا کتاب له دې پرته پای ته نه رسوي چې د دې پروګرام د روښانه پروګرامونو د نښو سره مو بلد نه کړي او هغه توصیې، لارښوونې، پندونه او وړاندیزونه چې پکې راغلي دي، تاسې ترې خبر نه کړي، د دې لپاره چې ځان په هغه څه سمبال کړي چې الله تعالی یې ترې غواړي او خپل شخصیت په اسلامي کامله او متوازنه لاره برابر کړي، تر هغه ځایه چې اسلامي شخصیت لرونکی (پرهېزګاره، همدارنګه تېر شوي نیکانو په څېر) کړي او د عبادت، علم او دعوت لیواله و اوسي.

هغه طرحه او پروګرام چې د لیواله ضمیر خاوند لپاره مې وړاندې کړی دی، د هغوی د ځواک او وسې مطابق دی او هغوی دې ته رابولم چې د ځان سره په پوره میړانه او قوي هوډ چلند وکړي، په حقیقت کې د خلکو د وخت مقدار توپیر کوي، دا پروګرام د لارښونې ښودونکی او د پیروۍ معیار دی، چې که ټول نه وي؛ خو د دې اړوند ډېر شیان پکې دي.

دا یادانښت هماغه د علم خاوندانو ته وړاندې کوم چې د لیواله ضمیر خاوندان دي، په داسې حال کې چې د خپل دویم کتاب د ژر چاپ کېدو ژمنه مې هم پوره

Preview (6 / 10) - ketabton.com



کېدونکې ده، ان شاء الله. دا کار مې خاص د الله تعالی د رضا لپاره ترسره کړی، په دې هيله چې د هغه په دربار کې قبول شي او اجر يې راکړي.

**دوکتور صلاح عبدالفتاح خالدي**

**يکشنه ۱۴۱٦/۱۰/۱۳ هـ**

**۱۹۹٦/۳/۳ ميلادي**

Preview (7 / 10) - ketabton.com

# لومړی فصل

## سورت عصر، حق او صبر ته د یو بل رابللو سپارښتنه

Preview (8 / 10) - ketabton.com



# لومړی فصل

## سورت عصر ، حق او صبر ته د یو بل رابللو سپارښتنه

الله تعالی پر مسلمانانو لازم کړي چې یو بل ته نصیحت وکړي، پند او فکر ورکړي؛ خو په داسې ډول چې هر یو یې بل ته نصیحت وکړي او هغه د خېر او نیکۍ لوري او د دې لاربښوونو د ترلاسه کولو لارې ته رهنمایي کړي، په دې لاره کې د هغه سره مرسته وکړي او هغه ته د هغه چارو، حقایقو، اصولو او بنسټونو یادونه وکړي چې هغه مخکې زده کړي وو او پرې خبر و، هغه مسایل چې د ژوند په بوختیا او د مصروفیت په ډېربدو یې له پامه غورځولي یا یې هېر کړي وي او د ستونزو، د لارې سختوالي او لګښت سره سره هغه ته د صبر او حق توصیه وکړي.

### لومړی: په سورت عصر سره استقامت

سورت عصر د قران کریم یو کوچنی سورت دی چې د پورته حقایقو له جملې پکې ځینې حقیقتونه راغلي دي؛ الله تعالی فرمایي:

﴿ وَ الْعَصْرِ ۞ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِیْ خُسْرٍ ۞ اِلَّا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَ تَوَاصَوْا بِالْحَقِّ ۙ۬ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ۞ ﴾. **(العصر: ۱-۳)**

ژباړه: په زمانه قسم انسان په حقیقت کې په لوی تاوان کې دی پرته له هغو خلکو چې ایمان یې راوړی او ښه عملونه کوي او یو بل ته د حق نصیحت او د صبر ښودنه کوي.

الله تعالی په دې سورت کې په عصر قسم کړی او عصر هماغه وخت او چاره ده. د قران کریم د عصر سورت دا ښکلی ټکی ټولو خویندو او ورونو ته وړاندې کوم او دا کتاب په همدې پیلوم چې لیواله کسان یې په قران کریم کې د تدبر او د خپل عمر د حاصل اخیستو او له هغه څخه د ګټې اخیستنې لپاره وکاروي.

Preview (9 / 10) - ketabton.com



## دویم: د عمر په تېرولو پوهېدل

د عصر د معنا بنسټ یعني: (یو شی دومره زبېښل چې نم وکړي)[1].

کله چې لباس زبېښې او تاووې یې چې نم وکړي او اوبه ترې ووځي، وايي: (عصرتُ الثوب) او په همدې خاطر الله تعالی وریځې د (مُعصِرات) په نوم یادې کړې دي، لکه: الله تعالی چې په قران کریم کې فرمايي:

﴿ وَّأَنْزَلْنَا مِنَ الْمُعْصِرٰتِ مَآءً ثَجَّاجًا ﴾.(النباء: ۱۴)

ژباړه: اوله وریځونه موپر له پسې بارانونه را ورولي دی.

وايي دا وریځې چې اوبه لېږدونکې دي زبېښل کېږي او تاوېږي او په پایله کې ترې اوبه راڅاڅي او په څمکه جاري کېږي.

کله چې (عصرُ الشیء) د یو شي د هماغه فشار لپاره دی چې په یو شي کې د یو څه د بهر راوتلو لپاره وي؛ نو وخت او د خلکو عمر (عصر) دی؛ څکه چې پر هغوی واجب دي چې هغه په ښه ډول وزبېښي او تر فشار لاندې یې راولي چې په ښه ډول ترې ګټه واخلي او منافع او ګټې یې راوباسي.

د انسان عمر هماغه څانګړې چاره ده، چې پر هغه لازم دي چې دا وزبېښي او په ښه ډول ترې ګټه واخلي او ورسره یوځای شي.

ای مسلمانو خویندو او ورونو! عمر مو په ښه ډول وزبېښئ او پر هغه فشار راوړئ، د نفس سره جهاد وکړئ او ډېره هڅه وکړئ چې دا لنډ ژوند تباه نه کړئ؛ څکه که د عمر چارې ته دې ښه ونه کتل او ګټه دې ترې وانخیسته ډېر ژر به یې په تباه کېدو پښېمانه شې...!

---

۱. معجم مقاییس اللغة ، اثر ابن فارس ۷۸۲ مخ

Preview (10 / 10) - ketabton.com



## درېیم: د هغه کس تاوان چې عمر نه زبېښي (گټه ترې نه اخلي)

له شک پرته الله تعالی په عصر او وخت قسم کړی دی چې انسان په زیان کې دی؛ خو هغوی چې ایمان یې راوړی دی او نیک چلند کوي او یو بل حق ته رابلي او یو بل ته په صبر سره توصیه کوي.

ټول خلک زیان ویني، یوازې د نیک چلند لرونکي مؤمن پرته.

خلک په خپل عصر، عمر او وخت کې زیان ویني؛ ځکه چې دا عصر او عمر بې ځایه تباه کوي، د هغې څخه په ښه ډول گټه نه اخلي او نه هغه په ښه ډول زبېښي او د هغه له ساعتونو، ورځو، میاشتو او کلونو څخه استفاده نه اخلي.

## څلورم: د بریالیو یا گټونکو څلور ځانگړنې

هغه کسان چې عصر او عمر ته ضرر نه رسوي عبارت دي له: نیک چلند لرونکی مؤمن، هغه کسان چې نیک کارونه ترسره کوي، یو بل ته د حق سپارښتنه کوي او یو بل ته د صبر توصیه کوي.

دا سورت د بریالیو او گټونکو مؤمنانو لپاره څلور صفتونه بیانوي، هماغه کسان چې په ښه ډول خپل عمر او وختونه زبېښي، د دې ځانگړنو یادول موخه لري او همدارنگه د هغوی یادول په دې سورت کې بې موخې نه دي:

### ۱. په ایمان سره د پیلولو حکمت

اِلَّا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا: په ایمان سره یې پیل کړ؛ ځکه چې هغه اصل او بنسټ دی، د لیواله محرک کس اصل، د عمر د زبېښلو دلیل، د وخت پروگرام یا دستور العمل دی. ایمان هغه زېرمه ده چې مؤمن ته د عمر زبېښلو او په دې لاره کې د حرکت لپاره وړاندې کېږي چې دی ورته اړتیا لري... همدارنگه ایمان د الله تعالی پر وړاندې د نیکو کارونو د قبلېدو شرط دی. که دا نیک کارونه د ایمان د چینې څخه صادر نه شول او له هغې یې سرچینه وانخیسته نه منل کېږي او بېرته خپل خاوند ته سپارل کېږي.

PREVIEW

# You've reached the end of the preview.

Purchase the full book to continue reading.

**Buy this book - ketabton.com**

https://ketabton.com/books/kWFhV3eXQgD

Preview on ketabton.com. Rights remain with the author or publisher.